Barne-, ungdoms- og familiedirektoratet

# د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره

د ماشوم د بنپګنو لپاره



## په ناروې کې د ماشومانو د خوندي ساتنې ادره

د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره باید له ماشومانو، نوي ځوانانو او کورنیو څخه په کورنۍ کې د ستونزو او یا که چیرې ماشومان د کومو نورو لاملونو له کبله د دې اداري مرستې ته اړتیا ولري، ملاتړ وکړي (د بېلګې په توګه د سلوکي ستونزو او نشې پرمهال). مېندې او پلرونه مسؤلیت لري، چې د خپلو ماشومانو ساتنه او پالنه وکړي، خو که چیرې مېندې او پلرونه ستونزې ولري، د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره باید مرسته ور سره وکړي، تر څو ماشومان او ځوانان د اړتیا وړ پالنه او ساتنه تر لاسه کړي.
د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره باید تضمین کړي، چې هغه ماشومان او ځوانان، چې په داسې شرایطو کې ژوند کوي، چې د دوی روغتیا او ودې ته زیان پېښولای شي، په مناسب وخت کې مرسته تر لاسه کړي او د لوېدو خوندي شرایط ولري.

**د ماشومانو د ګټو لپاره**

د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره باید دا په پام کې ونیسي، چې څه شی د ماشوم په ګټه دي. دا کار کیدای شي ځینې وخت د مور او پلار له نظر سره په ټکر کې وي. د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره باید په لومړي قدم کې له مېندو او پلرونو سره مرسته وکړي، تر څو مېندې او پلرونه وکولای شي پخپله د خپلو ماشومانو لپاره ښه پالوونکي اوسي. که چیرې یاده مرسته کافي نه وي او یا د مور او پلار ستونزې ډېرې وي، کیدای شي دا مناسبه وي چې ماشومان د لنډې یا اوږدې مودې لپاره له کور څخه بهر په بل ځای کې ځای پر ځای شي.

## مونږ ستونزې لرو، ایا د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره مرسته کولای شي؟

هر څوک په ژوند کې یو ځل له یوه داسې ستونزمن حالت سره مخامخ کېدای شي، چې د خپلو ماشومانو د ساتنې او پالنې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره مرستې او ملاتړ ته اړتیا لري. په داسې حالتونو کې د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره مسؤلیت لري، چې له کورنۍ سره مرسته وکړي.
ګن شمېر خلک په دې آند دي، چې د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره اړیکه نیول ستونزمن دي، ځکه دوی وېره لري چې ماشوم به ترې واخلي. څرنګه چې له مېندو او پلرونو څخه د ماشومانو د ساتنې او پالنې مسؤلیت اخیستل د ماشوم او مور او پلار لپاره یو خورا جدي ګام دی، نو د دې کار لپاره باید قوي لاملونه شتون ولري.
که چیرې تاسو د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې مرستې ته اړتیا ولرئ، کولای شئ د خپلې استوګنې له ښاروالۍ (کمون) سره تلیفوني اړیکه ونیسئ او د لیدنې غوښتنه ترې وکړئ. کله چې تاسو خبرو اترو ته ورشئ، نو د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره به په ګډه معلومه کړئ، چې ستاسو کورنۍ کومو مرستو او ملاتړ ته اړتیا لري.
ډېرې کسان د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې لخوا په کور کې مرسته تر لاسه کوي، تر څو ماشومان او مېندې او پلرونه وکولای شي چې یو ځای ژوند وکړي. مونږ دې ته د مرستې لارې چارې وایوو، چې یادې لارې چارې کېدای شي په لاندې بڼه وي:

- کورنۍ ته مشورې او لارښوونې
- د مېندو او پلرونه ګروپونه
- د اړیکو مسؤل
- په ورکتون کې د ځای لپاره مالي مرسته
- د ښوونځي له رسمي وخت څخه مخکې او وروسته د ماشومانو د ساتنځای (SFO/AKS) لپاره مالي مرسته
- د فارغه وخت د فعالیتونو او نورو شیانو لپاره مالي مرسته
- د اوونۍ په پای کې (شنبې او یکشنبې) مرسته/د ورتګ لپاره یوه کورنۍ (besøkshjem)



همدارنګه د کورنیو د خوندي ساتنې له ادارې څخه هم د مرستې غوښتنه کولای شئ.
په یاده اداره کې کورنۍ د ورځنیو ستونزو او همداراز کله چې په کورنۍ کې ستونزې، شخړې او یا کړکېچونه وي، مشورې او لارښوونې تر لاسه کوي.



په ۲۰۱۲ کال کې ۴۰ سلنه ماشومانو، د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې څخه د مشورو او لارښوونو په بڼه مرسته تر لاسه کړې ده.
۲۰ سلنه ماشومانو ته د اوونۍ په پای کې د ورتګ د کور وړاندیز وشو او ۱۹ سلنه ماشومانو د مالي ملاتړ تدابیر تر لاسه کړل.
په هغو ټولو ماشومانو کې، چې د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره په کې ښکېل ده، له ۸۰ سلنې څخه زیاتو ته یې په خپله خوښه د مرستو لارې چارې وړښودل کېږي.
(SSB)

## زه د یو ماشوم په هکله، چې پېژندګلوی ورسره لرم، اندېښنه لرم. ایا زه باید د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره اړیکه ونیسم؟

کیدای شي تاسو د مور یا پلار په توګه وېره ولرئ، چې د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره اړیکه ونیسئ. د خپلوان، ګاونډي، ښوونکي او ورته کسانو په توګه کیدای شي تاسو نامطمین او له لاسوهنې څخه ډار ولرئ.
که څوک اړیکه و نه نیسي، نو پایله یې کیدای شي دا وي، چې ماشوم او مور او پلار یې هغه مرسته تر لاسه نکړي، چې اړتیا ورته لري او د قانون له مخې یې حق دی.
د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې له سیمه ییز دفتر سره له اړیکې نیولو څخه ډار مه لرئ. له دوی سره تلیفوني اړیکه ونیسئ او د ستونزې یا اندېښنې په هکله مو ورته معلومات ورکړئ. د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې مسلکي کارکوونکي تاسو ته ښې مشورې او لارښوونې درکولای شي، چې تاسو څه کولای شئ او دوی له تاسو او یا له هغه ماشوم سره څه مرسته کولای شي، چې تاسو یې په اړه اندېښنه لرئ.
که ستاسو په اند، د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره اړیکه نیول ستونزمن وي، د ټولنیزو چارو ښوونکی، نرسه، مشاور او یا نور لویان در سره په دې اړه مرسته کولای شي.

**ایا کېدای شي د خبر ورکولو پر مهال زما نوم پټ وي؟**

- تاسو کولای شئ پخپله پرېکړه وکړئ، چې د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره د اړیکې پر مهال مو نوم پټ وي او که نه.
- تاسو کولای شئ پخپله، پرته د خپل نوم له ورکولو څخه د قضیې په هکله خبر ورکړئ، تر څو د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره او د ماشوم مور او پلار پوه  نشي چې چا خبر ورکړی دی. په یاد ولرئ، چې کورنۍ ته د خبر د ورسپارلو امکانات ورکول کېږي. د بېلګې په توګه که چیرې تاسو ولیکئ، چې تاسو د ماشوم ترور یاست، په اسانه توګه پېژندل کېدای شئ.
- که تاسو غوره کړئ، چې نوم مو پټ نه وي، نو د ماشوم مور او پلار خبرېږي چې چا د ماشوم په هکله د ماشومانو د خوندي ساتنې ادارې ته اندېښنه څرګنده کړې ده.

## کله چې د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره د یو ماشوم او یا کورنۍ په اړه د اندېښنې خبر تر لاسه کوي، څه پېښېږي؟

د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره ډېرې وخت د یو چا لخوا د تلیفون او یا لیک له لارې خبر تر لاسه کوي، چې هغه فکر کوي چې یو ماشوم یا کورنۍ په ښه حالت کې نه ده. مونږ دې ته د اندېښنې خبر وایوو. د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره دنده (مکلفیت) لري، چې د اندېښنې د یو خبر په اړه خپلې کړنې تر سره کړي او ارزونه وکړي، چې د قضیې په هکله نورې پلټنې تر سره کړي او که نه.  که چېرې د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره معلومه کړي، چې د نورو پلټنو لپاره لامل شتون لري، کیدای شي، چې یاده اداره له هغه چا سره اړیکه ونیسي، چې د قضیې په هکله یې خبر ورکړی دی، تر څو معلومات تر لاسه کړي، چې د اندېښنې خبر ولې ورکړل شوی دی.

ځینې نور وخت بیا د دې اړتیا نه وي او د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره د لا زیاتو پلټنو لپاره نېغ په نېغه د ماشوم له مور او پلار سره اړیکه نیسي. هغه وخت بیا مور او پلار دفتر او یا په کور کې خبرو اترو ته رابلل کېږي. که چېرې د ماشومانو د ساتنې د ادارې کار کوونکي د ماشوم د مور او پلار کور ته ورځي، لومړی په دې هکله د ماشوم کورنۍ ته یو لیک استول کېږي او معلومات ورکول کېږي، چې د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره یې کور ته ورځي.

کله چې مور او پلار د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې له کارکوونکي سره لیدنه کوي، دوی ته د اندېښنې د خبر په اړه معلومات ورکول کېږي او  ډېرې وخت کولای شي، چې یاد خبر په خپله ولولي. کله چې مور او پلار د اندېښنې د خبر په هکله معلومات تر لاسه کړي، نو کورنۍ او د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې کارکوونکی د خبر د محتوا په هکله خبرې اترې کوي. د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره ډېرې وخت له نورو  هغو ادارو، لکه روغتیایي مرکز، وړکتون، ښوونځي، د روحي روزنیزو خدمتونو ادارې او داسې نورو سره، چې د ماشوم او کورنۍ سره پېژندګلوی لري، خبرې اترې کوي. د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره باید د پلټننو له لارې معلومه کړي چې آیا د قضیې د تعقیبولو اړتیا شته او که نه.



## د مور او پلار او ساتونکو حقونه

هغه مېندې او پلرونه، چې ماشوم ورسره اوسېږي او همدارنګه هغه مېندې او پلرونه، چې د دې تر څنګ د ماشوم مسؤلیت هم لري، د ماشومانو د خوندي ساتنې په قضیه کې یوه برخه ده. که چیرې تاسو په قضیه کې ښکېل یاست، نو:

- د قضیې د اسنادو د لیدلو حق لرئ
- د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې په پرېکړه د شکایت حق لرئ
- د ماشومانو د قضیو د څېړلو ولایتي کمېټې (Fylkesnemnda) ته د حاضرېدو او خپل نظر د څرګندولو حق لرئ
- په محکمو او د ماشومانو د قضیو د څېړلو په ولایتې کمېټه پورې په اړوندو قضیو کې په وړیا توګه د وکیل حق لرئ
- د ماشومانو د قضیو د څېړلو د ولایتي کمېټې له خوا په پرېکړه محکمو ته شکایت کولای شئ
- د پالنې او ساتنې د اخیستلو د پرېکړې د له منځه تللو (لغوه کولو) د غوښتنې حق لرئ



یاد ټرون څرګندوي چې د ۱۸ کلنۍ له عمر څخه لاندې کسان ماشومان بلل کېږي او د ماشومانو د ټرون تر پوښښ لاندې راځي.

- ټول ماشومان آزاد پیدا کېږي او یوشان ارزښت لري.
- ټول ماشومان د نوم او ملت درلودلو حق لري.
- ټول ماشومان د خوندیتوب حق لري.
- ټول ماشومان د مناسبې روغتیايي مرستې او کافي خوړو او څښاک حق لري.
- ټول ماشومان حق لري، چې نظر یې واورېدل شي او پاملرنه ورته وشي.
- ټول ماشومان ښوونځي ته د تلو حق لري.
- ټول ماشومان د لوبو، تفریح او استراحت حق لري.
- ټول ماشومان یو شان حقونه لري.

## څرنګه د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره اړیکه نیولای شم؟

**لیک استول**

تاسو کولای شئ د پوستې له لارې د اندېښنې خبر واستوئ او په کې ولیکئ، چې مرستې ته اړتیا لرئ او غواړئ چې د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره وګورئ. که تاسو د یو ماشوم په هکله اندېښنه لرئ، کولای شئ چې د پوستې له لارې لیکلی خبر ولېږئ. په لیک کې باید ولیکئ چې ستونزه څه ده، اندېښنه د چا په اړه ده او د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره څرنګه کولای شي چې له کس سره اړیکه ونیسي.



**تلیفوني اړیکه نیول**

همدارنګه تاسو کولای شئ چې د هغې ښاروالۍ (کمون) د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره تلیفوني اړیکه ونیسئ ، چې ماشوم یا ځوان په کې مېشت وي. کله چې تاسو اړیکه ونیسئ، نو د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې له یو کارکوونکي سره به د خپلې اندېښنې په هکله خبرې وکړئ. هغه مهال به تاسو ته مشوره او لارښوونه وشي چې څه باید وکړئ. که غواړئ، نوم مو پټ پاتې کېدای شي.

**لیدنه**

د خبرو اترو لپاره وخت ونیسئ. د ماشومانو د خوندي ساتنې یو زیات شمېر ادارو د مشورو او لارښوونو لپاره وخت ځانګړی کړی دی. که تاسو غواړئ، چې له دې څخه ګټه پورته کړئ، د خپلې استوګنې د ښاروالۍ د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره تلیفوني اړیکه ونیسئ او د وخت درلودو پوښتنه ترې وکړئ. تاسو کولای شئ په داسې خبرو اترو کې د خپلې اندېښنې په هکله خبرې وکړئ او د دې په هکله چې څه باید وکړئ، لارښوونې تر لاسه کړئ. همدارنګه تاسو کولای شئ د خپل ملاتړ لپاره کوم څوک له ځان سره بوځئ.

## د اړتیا پر مهال د ژباړونکي غوښتنه کولای شئ.

## د کورنۍ شورا

په دودیزه توګه د ماشومانو د خوندي ساتنې په قضیو کې د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره پرېکړه کوي، چې څه باید وشي. هغه کورنۍ چې ستونزې لري، کولای شي د کورنۍ شورا د جوړولو لپاره مرسته تر لاسه کړي. کورنۍ شورا یوه غونډه ده، چې یوه کورنۍ په کې له خپلوانو او هغو کسانو سره راټولېږي، چې د ماشوم په اړه اندېښنه لري. کورنۍ هوکړه (موافقه) کوي چې د ماشوم او کورنۍ د حالت د ښه کولو لپاره څه باید وشي او په دې هکله د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره خبرې اترې تر سره کوي.

که تاسو له یوې ویرونکې او ناکراره کوونکې پېښې سره مخامخ شوي یاست، تاسو پخپله او یا کوم بل داسې څوک چې تاسو یې پېژنئ، د کورنۍ په یو ستونزمن حالت کې وي، د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې له نوکریوال او یا **۱۱۶۱۱۱** شمېرې سره اړیکه ونیسئ.

TIBE / ILLUSTRASJONSFOTO: TINE POPPE. LARS PETTER PETTERSEN / tinagent.no

Barne-, ungdoms- og familiedirektoratet


**پوستي پته**

Postboks 2233

3103 Tønsberg

**د ورتګ/دفتر پته**

Stensberggaten 27

0170 Oslo

**bufdir.no**